# فیمنزم له مخې د پښتو ژبې څېرنه

## Analysis of the Pashto Language in Feminist Perspective

ډاکټر اجمل ښکلی *

**Abstract:**

This paper is taking a detailed linguistic account of the construction of feminine and masculine attributes in the Pashto Langauge. As the second wave of feminism pave the way to foretell and analyze the structural drivers women inferiority and the inherent basies in the text and context, a discourse on the deconstruction of sementics started. The paper take a detailed analytical glance over the feminine-masculine attributes and its reflection in the grammaer of Pashto language. The argument mainly takes patriarchy and masculinity as social systems that has further developed language system and meaning for roles, positions and conditions of the two gender particularly man and woman.

**Key Words:** Feminist thories, Pashto Language, Grammer, Structural Drivers, Patriachy.

فیمنزم د ښځو د حقونو هغه مکتب دی، چې د ښځو له حقونو پیل شو او په فرهنګ کې د دوی په اړه د نارینه تر ذهنیت پورې راورسېد. د فیمنزم په اند، دې ذهنیت تر شا نرواکي ولاړه ده، چې یو ټولنیز واقعیت دی. پر دې بنسټ موږ د فیمینستي نظریې له مخې د هغو ژبو مطالعه هم کولای شو، چې لا یې جنسیت ساتلی او د جنسیت پر بنسټ هم د کلمې ماناوې او ګرامري قاعدې توپیروي. په دې ژبو کې که پخوا اوېستایي او زړه فارسي وه، چې اوس یې په ژبه کې جنسیت تر شا پرېښی؛ نو اوس پښتو ده، چې لا یې جنسیت ساتلی او د جنسیت پر بنسټ ژبني قواعد او رغښتونه توپیرو.

په پښتو کې په دوو ډګرونو کې پر جنسیت غږېدای شو، یو په خپلواکو ویېزو مفاهیمو کې چې ښځینه ته منسوبې ژ بنې نښې د نرواکۍ ښکارندویي کوي او بل په ګرامري رغښتونو کې. په پښتو کې د نومونو، ستاینومونو، شمېرنومونو، نومځرو، قیدونو په بڼه هم د جنسیت توپیر شته او د فعل د تصریف په بڼه هم.

خو په دې ټولو موارادو کې اصل او سرچینه نرینه جنس دی، چې ښځینه جنس ترې راوتی. په دې ډول دوه داسې لارې دي، چې له نرینه جنس نه ښځینه جنس جوړ شوی، یو د نرینه توک وروستی غږ

* Associate Professor, Department of  Pashto University of  Kabul

په بل غږ اوښتی او مونث ترې جوړ شوی یا دا چې پر نرینه جنس یو مورفیم ورزیات شوی، بیا ترې ښځینه جنس راوتی. دا لیکنه پر همدې مسایلو څرخي.

**فیمینزم او د ژبې معنوي رغښت:**

فیمینزم د خپل تاریخ په دویم پړاو کې د ښځې له محدودو حقونو نه راووت او د فرهنګ په هره برخه کې یې د نرواکۍ له فرهنګ نه پرده پورته کړه. تاریخ ته یې سر ورښکاره کړ او پر ادبي متونو یې د فیمینستي تیورۍ له زاویې نه کره کتنه وکړه. پوهان د فیمینزم د دې دویمې څپې پیل د سیمون دوبوار له اثر (دویم جنس) نه بولي. د دوبورا په اند، ښځه توب کوم بیالوژیکي توپیر نه ښیي، بلکې دا د نرواکۍ مفهوم دی، چې جوړې یې باید له ښځو نه په هغو هیلو او ځانګړو ارزښتونو کې وګورو، چې (نرواکې) ټولنې د ښځې لپاره ښودلي. ښځه د دې ارزښتونو په منلو، د ټولنې هیلو ته هرکلی وایي. په بله وینا، ښځینه ځانګړنې د دې پر ځای چې د جسم پر بنسټ تعریف شي، د هغو چلنونو پر بنسټ مشخصېږي، چې ټولنه یې ښځینه بولي او مخالفت یې د ښځو له جنسیت سره مخالفت بولي(1)

د فیمینزم دې څپې د فرهنګ په هره برخه کې د ښځو په اړه د نرواکې ټولنې پر تعریفونو او مشخصاتو نقد وکړ. په دې کې ادبیات هم شامل وو، چې ښځه پکې د نارینه شاعر له خوا د محبوبې، مور او نورو بڼو راغلې وه او سرې د خپلو تمایلاتو له مخې واقعي ښځه مسخه کړې وه. همدا راز له ادبیاتو سره په خوا کې ژبه وه، چې فیمینستانو یې په اړه بحث وکړ.

**د جنسیت پر بنسټ د پښتو څېړنه:**

په لرغونو آریایي ژبو کې مورفیمونه له درې اړخونو ګردانېدل: حالت، جنس او عدد؛ خو تر دې په مخکو ژبو لکه هیتي ژبه کې نومونه په ساکښ او بېسا ویشلي وو او ګردان یې په دې دوو ډولونو و. ښځې او ماشومان هم د بېسا شیانو غوندې ګردانېدل. په وروسته دوره کې په آریایي ژبو کې ساکښ او بېسا د حالت، جنس او عدد په ګردان واوښتل او دا ښیي، چې په ژبه کې د جنس ګردان او د جنسیت موضوع وروسته مطرح شوې.

څرنګه چې ژبه یوه ټولنیزه ښکارنده او د انساني افکارو هینداره ده؛ نو دا له امکانه لرې نه ده، چې د جنسیت اړوند اختلافات دې پکې خپلې نښې پرېښې وي او جنسیتپاله ژبه دې یې رامنځته کړې وي. جنسیتپاله ژبه هغه ده، چې په کلمو او ګرامري رغښتونو کې یې پر ښځو سترګې پټې کړې وي یا یې ورته سپکاوی کړی وي ایوي و بک لاند د دیل سپندر په اند، سړې د ځواک په داسې یو موقعیت کې پاتې شوي، چې نړۍ یې د خپل لیدلوري له مخې نومولې او د ژوند او ژبې لپاره یې نورمونه جوړ کړې دي(2)

د سړي ځواکمنېدل له تاريخي پلوه ځيني لاملونه درلودل. انسان حيوانات اهلي کړل او له دې امله بايد په ځړځايونو پسې ګرځېدلی وای او د خپلې کورنۍ لپاره د خوړو په لټه کې له خپلې پادې سره له کورنۍ جلا شوی وای. څرنګه چې دا کار د نارينتوب له خويونو سره برابر وو، نو په درېيمه مز زريره کې د پلاروکۍ انقلاب راغی او د قبيلوي تملک(ملکيت) ځای کورني ملکيت او د ښځې ځای پلار- مېړه ونيو. په دې ډول د انسان ځايناستی د اوېستا مېړه -mašya شو او سړي همېشه مونثه ځمکه ورخپله کړه او patria د وطن مانا واخيسته. پايله دا، چې د سړي په ذهن کې دا خبره پخه شوه، چې دوی پياوړي او برلاسي (اوېستايي: -nar "نر" د هندو اروپايي د -nar له ريښې نه دی، چې ځواکمن ته وايي)، د عقل څښتن(-manu "منوش، لومړنی انسان، د هندو اروپايي د -man له ريښې نه " فکر کول") او د ښځو او پادو مشران او څښتن (اوېستايي -patay د pā له اوېستايي ولۍ نه "پاييدل او خواړه ورکول") انسانان دي(3) .

د پښتو مېړه هم د اوېستا د -mašya له ريښې نه دی، چې په پښتو کې هم د ځواکمن، پياوړي او شجاع مانا لري او د مېړانې او مېړني ستاينومونه ترې راوتي. په زړه پورې دا ده، چې مېړه يوازې د مېړني مانا نه لېږدوي، بلکې له مېرمنې سره جوخت هم کارېږي؛ لکه: د پلانۍ ښځې مېړه. دا د جنسيتي توپير يوه ښکاره بېلګه ده، چې ولې له ښځې سره څنګ تر څنګ د مېړه(زړور) کلمه کارېږي؟ ځکه چې پر وړاندې يې ښځه ده، چې کمزورې ده او يوازې مېړه يې ساتنه کوي. له همدې امله هغه ښځه چې واده يې کړی وي، په پښتو کې مېړوښه بولي او دا ښيي، چې په پښتو کې د ښځو اړوند مفاهيم د سړو له مفاهيمو زېږي، ګنې هغه سړي چې واده کړی وي، ښځمېړ يې نه بولي.

په پښتو کې هم ځمکه لفظي مونثه کلمه او مونث مفهوم دی، چې څښتن يې بالعموم سړی وي او له سړي نه اولاد ته په وراثت کې پاتې کېږي. د وراثت موضوع هم له تاريخي پلوه د نرواکۍ زېږنده دی، چې اولاد د پلار په خېل او قوم پسې ځي او د مور لور په ارثيت کې له پامه غورځېږي. له بله پلوه د پښتو د "مېرمن" کلمه د استاد زيار په اند، د پښتو له مېنې او د فارسي له مېهن کلمې سره همريښه دي. که د مېرمن او مېنې په لړ کې د پښتو مېړه ته وګورو، په پښتو کې مېړه ته خاوند او څښتن وايي. خاوند صاحب ته وايي. دا کلمه راته وايي، چې پښتانه مېړونه خپلې ښځې د مال غوندې ګڼي او ځان ته يې د څښتنوالي(تصاحب) حق ورکوي (4)

څښتن د تصاحب او مېرمن د ملکيت کېدو لومړنۍ مانا لري، ځکه څرنګه چې سړی د مېنې څښتن دی، داسې د مېرمن څښتن هم دی او دا اړيکه په پښتني ټولنه کې برعکسېدای نشي. داسې نشو ويلای، چې ښځه د سړي څښتنه ده. دا مفهوم يوازې په پرمختللو ټولنو کې شته، چې ښځه پر سړي مسلطه وي او ځان يې يوازنۍ څښتنه بولي او له بلې ښځې سره يې شريکول نشي زغملای. يوه

خبره د يادولو وړ ده، چې مېرمن کلمې په پښتو کې د تاريخ په اوږدو کې د "مېرمندې" په بڼه د وينځې او د شيانو د تصاحب مانا هم ورځپله کړې ده

که پښتو ژبې ته د فيمينزم له ليدلوري وګورو، په دې کې هم سړی په مرکز او ښځه په حاشيه کې ده. سړی د ښځې لپاره معيارونه ټاکي. يځپله سړی د پښتو په ګڼون په زياترو ژبو کې د انسان انډول دی. يعنې د سړيتوب ځانګړنې د انسانيت ځانګړنې دي، چې په دې کې زړور، پياوړی، هوښيار، نېک، فعال، حاکم او داسې نور مثبت خويونه راځي، چې د ټولنې افرادو ته يې د ورځپلولو تلقين کېږي؛ خو پرخلاف يې ښځه ده، چې ډارنه، کمزورې، کمعقله، احساساتي، مکاره، منفعله او محکومه او... ګڼل کېږي، چې په ټولنه کې دا خويونه بد ګڼل کېږي او له همدې امله د ښځې په اړه منفي تصور موجود دی.

له دې زاويې نه ويلای شو، چې په ژبه کې "سړی" يو نښور مفهوم دی، ځکه چې د انسان، بالغ او نارينتوب نښې لري؛ خو ښځه بې نښې ده او د سړي له مفهوم سره د تضاد پر بنسټ د پوهاوي وړ ده؛ نو چې سړی د انسان انډول شو؛ نو ښځه لاشعوري له پامه غورځېږي او حاشيې ته ځي (5)

دين راته وايي، چې خدای له جنسيته مبرا دی؛ خو زموږ کلچر او زموږ ژبې موږ ته خدای د يوه نارينه جنس په توګه راپېژندلی دی. خدای زموږ په عقيده کې يو مټور او لوی شخص دی، چې موږ د خلو غوندې په يوه او بل غره ويشتلای شي. موږ له خدای نه د لرغوني اسطوري پېر د توتم غوندې د شفقت تمه کوو يا ورته د يوه قهرجن واکمن او غيرتي ذات په سترګه ګورو. له غيرت نه موږ ځانګړې جګړه ييزه مانا اخلو او د نارينه وو کار يې ګڼو. موږ دې منسوب کړيو صفتونو ته نه ځير کېږو؛ خو کله چې خدای ته د ښځينه صفتونو د منسوبولو هڅه کوو، پته راته لګي، چې موږ خدای يو نارينه ذات ګڼو. خدای ته د خپلې مور صفتونه نه ورکوو او که ووايو، چې خدايه مهربانه ذاته ده؛ نو له واره د خپلې تېروتنې درونوالي ته متوجه کېږو."(6)

د فيمينزم پر بنسټ په زياترو ژبو کې بېلابېل ښځينه نومونه سړو ايښي او د نارينه عواطفو او انګېرنو ننګېرنو ښکارندويي کوي.

د پښتو د جن- نجلۍ کلمه د اوېستا د gen له کلمې سره هم ريښه ده. په اوېستا کې gen د زېږولو مفهوم لري او هغې بې مېړه ښځې(پېغلې) ته وايي، چې مطيع او منونکې او په کور کې ناسته وي، اوېستا زده کوي او زامن راوړلای شي (7). د اوېستا يوه بله مونثه کلمه -janay-/jənay-/jənərā- /gə-/jahī-/jahīkā ده، چې د مېرمنې او ښځې مانا لري (8)، چې دا کلمه د پښتو له نجلۍ سره هم ريښه ده. دا کلمه په اوېستا کې په منفي مانا راغلې او هغې ښځې ته وايي، چې په خپل عمل او

دروغو يې خپل اخروي ژوند تباه کړی وي او د اهريمنو په ډله کې شامله شوې وي(9). يا هغه ښځه ده، چې د شنډوالي له امله اهريمنۍ شوې وي(10)

همدا راز د پښتو د واده کلمه په اوېستا کې د -vaδū-/vaδut-/vaδri.yaonā يعنې مېرمن- ښځې په مانا راغلې، چې په هندواروپايي کې د -vedh په بڼه ده، چې د وړلو او اطاعت مانا لري. په خوارزمي کې دا کلمه د wud، په سغدي کې د waδu په بڼه راغلې، چې په فارسي کې يې v په b او δ په y اوښتی او /bayog/bayo [ناوې]) او يا يوازې په y د δ په اوښتو ترې wayog/wayo جوړ شوی (11)، (12)د دې ريښې مانا وروسته پراخه شوې او د واده کولو مانا يې ورخپله کړې. پر همدې بنسټ د -vaδri.yaonā مانا هغه نجلۍ ده، چې د واده په درشل کې وي. په پښتو کې د ولور کلمه هم په l د d او د b په w د بدلون په پايله کې د vadu-bar له کلمې راغلې، چې د واده د وړلو بيې ته وايي.

يوازې د خپلواکو وييزو مفاهيمو په کچ نه، بلکې د رغښت او ګرامر په کچ هم په ژبه کې د نرواکۍ ځانګړنې وينو. له رغښتي پلوه ځينو ژبو جنسيت تر شا پرېښی، مثلاً: په فارسي ژبو کې په ټولنيزه توګه جنسيتي توپير شته؛ خو په فارسي کې چې په لرغوني پېر کې جنسيت و، وسمهال له منځه تللی دی. په پښتو کې لاهم د جنس تفکيک شته، چې د نوم، ستاينوم، عدد، نومځري، قيد او فعل په کچ موجود دی.

په پاسني هر مورد کې په پښتو کې د جنسيت له پلوه اصل نرينتوب(تذکير) دی او تانيثيت د تذکير زېږنده دی. په دې ډول يوه نرينه کلمه شته وي، خو چې کله ښځينه ته کارېږي؛ نو له همدې نرينه نه په لړ مورفولوژيکي بدلون يا د روستاړي په ورزياتولو مونثه کېږي. پيل به له نوم څخه وکړو:

۱- دوبي په پښتو کې لفظي نرينه نوم دی، چې د مونث د جوړولو لپاره يې څو لارې دي. يوه دا ده، چې وروستۍ "ي" په "ۍ" واوړي او "دوبي" په دوبۍ بدله شي.

په دې برخه کې "ڼه/ڼۍ" هغه روستاړی دی، چې د نرينه د ښځينه کولو لپاره کارېږي: موچي: موچڼه، نايي" ناي‌ڼه، حاجي: حجاڼۍ.

پر دې سربېره په پښتو کې له مذکر نه د مونث کولو بله عامه لار د نرينه نوم په پای کې د a ورزياتول دي او دا چاره زياتره په بېواکغږ د پای شويو نومونو د مونث کولو لپاره کارېږي؛ لکه: وکيل: وکيله، مشر: مشره، مامور: ماموره، محمود: محموده.

همدارنګه په پښتو کې د خپلوۍ څه مونث نومونه له نرينه نوم نه راوتي: کاکا: کاني، ماما: ماني او دا ځکه چې د دوی تشخص د دوی د مېړونو له مخې دی او لکه د مور او خور غوندې خپل تشخص نه لري. په پښتو کې "زۍ" د "زوی" لنډه بڼه ده، چې په نرينه کلمو کې کارېږي؛ خو دا نرينه جنسيت په مونث جنس هم تحملېږي؛ لکه: يوسفزی: يوسفزۍ، خورزه، تروزۍ.

پر دې سربېره ځيني نور نومونه د بڼې د اوړون په مټ له نرينه نه ښځينه کېږي، مثلا سرچينه "پښتون" دی، چې د مونث جوړولو لپاره يې بڼه اوښتې او "پښتنه" شوې. همداسې شپون: شپنه او نورې. "مېلمنه" او "کوربنه" هم په "مېلمه" او "کوربه" د "نه" روستاړی ورزيات شوی.

په پښتو حيواناتو ښځينه نومونه هم له نرينه وو نه په لړ بدلون جوړېږي: مږ: مېږه، زمری: زمرۍ، چرګ: چرګه او ....

په پښتو کې د مونث د جمع کولو لپاره پر نرينه جمع روستاړي باندې بالعموم (ې) ورزياتېږي: دوبيان: دوبيانې، محصلان: محصلانې، زانګوګانې.

۲- ستاينوم: په پښتو کې د جنس له مخې سرچينه نرينه ستاينوم دی، چې کله يې ستايلی(موصوف) ښځينه شوی؛ نو د نورو نومونو غوندې يې بڼه بدله کړې ده. په پښتو کې د ستاينوم او ستايلي سمون(مطابقت) مهمه موضوع ده. دا سمون هم د عدد او هم د جنس له پلوه مطرح دی. د جنس له پلوه ستاينوم له خپل ستايلي سره بېلابېلې بڼې لري، مثلا "سور" د مفرد مونث لپاره په سره او د جمع مونث لپاره د "سرې" په بڼه راځي. همداسې "ښه" د نرينه لپاره "ښه"، چې د يوګړي ستاينوم لپاره يې وروستی زورکی په زور اوړي او "ښه" کېږي، چې بيا د جمع لپاره په "ښې" اوړي.

۳- عدد: په پښتو کې عدد هم لومړی د نرينه لپاره دی او بيا د ښځينه لپاره پکې اوړون راځي، چې په اصلي ډول کې يې يوازې "يو" او "دوه" په "يوه" او "دوې" اوړي او په رتبي او انقسامي ډول کې تقريبا ټول د جنس لپاره بدلون کوي، چې يوازې "لومړی" په "لومړۍ" او نور په پای کې زور اخلي، لکه سلم: سلمه، دوه اويايم: دوه اويايمه.

۴- نومځري: د پښتو نومځري هم د جنسيت له ليده مطالعه کولای شي. په پښتو کې په شخصي نومځرو کې په اولګړي او دويمګړي کې د جنسيت تفکيک نه وينو، يوازې په درېيمګړي کې دا توپير شته. لکه بن ونيست چې په "د نومځرو طبيعت" کې وايي، چې درېيمګړی په اصل کې د ويناوال لپاره شخص نه، بلکې څيز دی؛ نو ښايي همدا لامل وي، چې د درېيمګړي لپاره په لړه بدله بڼه په پښتو، فارسي او ځينو نورو ژبو کې اشاري نومځري کارېږي. اشاري او د درېيمګړي نومځري دواړه لومړی د نرينه او بيا له نرينه نه د مونث د ګردان لپاره بڼه اړوي: دی: دا، هغه: هغې(اوښتې مونثه بڼه)، دغه: دغې.

په پښتو کې دويمه لويه برخه د فعل ده، چې د جنس له پلوه پکې په وسمهال کې ګردان نه دی پاتې، يوازې په تېر مهال کې هغه هم يوازې د درېيمګړي لپاره پښتو فعل د جنس له پلوه ګردانېږي؛ خو دا ګردان يې په نرينه جنس د ه(a)، له/ لې(جمع مونث) په ورزياتولو جوړېږي. د درېيمګړي يوګړي نرينه بڼه يې په بشپړ مهال کې زياتره صفر وي: کېناست: کېناسته/ کېناستله/کېناستلې، وليد:

وليده يا وليدله/وليدلې، ووت: ووتله، احمد کار کاوه: احمد کورنۍ دنده کوله، راغی، راغله، وخوړ: وخوړله/وخوړله او وخوړلې او داسې نور.

د پښتو فعل په ګردان کې دا هم مهمه ده، چې که په اېښې کې څو فاعله یا مفعوله راغلي وي، فعل د جنس له پلوه د چا له پاره ګردانېږي؟ که په جمله کې يو فاعل يا په تېر مهال متعدي جمله کې مفعول نرينه و او نور ښځينه وو، که هغه فاعل يا مفعول تر فعل مخکې د جملې په سر کې هم راغلی وي، فعل د هغه د موجوديت له امله د نرينه جمع په بڼه ګردانېږي:

۱- زلمی، زرڅانګه، زرمينه او زرينه راغلل.

۲- ما په لندن کې يو کال او درې اوونې تېر کړل(13)

په (۱) جمله کې زرڅانګه، زرمينه او زرينه او په (۲) جمله کې درې اوونۍ ښځينه دي او له دې سره چې له فعل سره جوختې راغلې؛ خو فعل يې پروا نه ده کړې او تر دوی د هاخوا نرينه فاعل او مفعول لپاره تصريف شوی. که (۱) جمله په لاندې بڼه واړوو، هم به فعل د نرينه په بڼه ګردانېږي:

۳- هلک او نجونې راغلل.

دا ښيي، چې په پښتو ژبه کې څو ښځمنې له يو نرينه سره نه دي برابرې او نرينه جنس پرې بيا هم درووند دی.

**پایله:**

د فيمنيزم له زاويې نه که پښتو ژبې ته وګورو؛ نو پوهېږو، چې پښتو د ژبې په توګه او پښتنو د ټولنې په توګه لاجنسيت تر شا نه دی پرېښی او اوس هم د انسانانو د وېش لپاره د جنس له تلې نه استفاده کوي. په پښتو کې په وييز او ګرامري کچ لاجنسيت پاتې دی او د دې ټولو مطالعه راته وايي، چې په پښتو ژبه کې هم د پښتنې ټولنې غوندې ښځې دويم جنس دی، چې د نرينه(مذکر) له چېچې پښتې زېږېدلې. په پښتو ژبه کې مونث جنس په مانيز، وييز او ګرامري کچ موجود دی، چې په وروستيو دوو ډګرونو کې د مونث د جوړولو لپاره پر نرينه ژبني توکي د روستاړي په ورزياتولو يا اوړونونو سره کلمه له نرينه څخه مونثه کېږي او دا ښيي، چې په پښتو کې مونث جنس له نرينه راوتی.

# حوالې

1 - پاینده، حسین. نظریه و نقد ادبی: درسنامه ای میان رشته ای. : سمت تهران، ۱۳۹۸، مخ ۷۷

2 - Spender, D. Man made language. London: Routledge & Kegen Paul. 1980. P. 2

3 - رضایی باغ بیدی، حسین بازتاب فرهنگ مردسالار در زبان های هندواروپایی. نامهٔ فرهنگستان، شمارهٔ ۹. تهران: فرهنگستان، ۱۳۷۶ ،مخ ۸۹-۹۹

4 - ښکلی، اجمل. فیمینستي ادبي نظریه. کابل مجله. کابل: دعلومو اکاډمي، ۱۳۹۵، مخ ۱۳

5 - پاینده، حسین. نظریه و نقد ادبی: درسنامه ای میان رشته ای. تهران: سمت، ۱۳۹۸، مخ ۷۷

6 - ښکلی، اجمل. فیمینستي ادبي نظریه. کابل مجله. کابل: دعلومو اکاډمي، ۱۳۹۵، مخ ۱۳

7 - یسن ها. ترجمهٔ ابراهیم پورداوود. تهران: اساطیر، ۱۳۸۰، بند ۹، ۱۰، ۱۵، ۶، ۲۲، ۵۳، ۵۴ و ۵۷

8 - بارتولومه، کریسیتیان .فرهنگ ایرانی باستان به انضمام ذیل آن با پیشگفتار بدرالزمان قریب .تهران: اساطیر، ۱۳۸۳، مخ ۶۰۳-۶۰۴

9 - یسن ها. ترجمهٔ ابراهیم پورداوود. تهران: اساطیر، ۱۳۸۰، بند ۹، ۱۰، ۱۵، ۶، ۲۲، ۵۳، ۵۴ و ۵۷

10 - هم دغه.

11 - Pokorny, Julius. Indogermanisches Etymologisches Wōrterbuch. Tūbingen: Francke. 1994. P. 1744

12 - Cheung, Johnny. Etymological Dictionary of the Iranian Verb. Boston: Leiden. 2007. P. 404

13 - زیار، مجاور احمد. لیکلارښود(یوه پښتو- کره پښتو). پېښور: د ساپي پښتو څېړنې او پراختیا مرکز، ۱۳۸۵، مخ ۲۸